# کاونټرپارټ

COUNTERPART

د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې خبر پاڼه

د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت

ګڼه : ۸

وږی ۱۳۸۷ – سپټمبر ۲۰۰۸

## کاونټرپارټ د افغان مدني ټولنې په اړه د عامه پوهاوي د لوړلو په خاطر له کوچیانو او د قوم له مشرانو سره کار کوي چې د افغان مدني ټولنې په وده کې ددوی رول زیات کړي

د روان کال د مۍ په ۱۹مه کاونټرپارټ د سرحدونو د چارو د وزارت د کوچیانو د عمومي ریاست په مرسته په ملي کچه د مدني ټولنې کانفرانس د کوچیانو او د قومونو د مشرانو له پاره د مدني ټولنې د پرمختګ په موخه په کابل کې دایر کړ. په دغه کانفرانس کې د ۳۴ ولایتونو څخه ۲۰۷ تنو ګډون کړی و چې ۱۰۶ تنه یې کوچیان او ۱۰۱ تنه یې د قومونو او جرګو مشران وو. ددغه کانفرانس هدف دا و چې د افغان مدني ټولنې د ودې او پرمختګ په اړه د کوچیانو او د قومونو د مشرانو د ونډې او نقش په اړه د پوهاوي کچه لوړه کړل شي.

د کاونټرپارټ مؤسسې مشرې آغلې ټیلي ریډ ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایــه. چې ورپسې د سرحدونو د چارو مرستیال وزیر ښاغلي محمد یعقوب احمدزي، د کوچیانو د عمومي ریاست رئیس ښاغلی دواد شاه نیازي، د آیپکس د رسنیو او مفاهمې د پروګرام مشر ښاغلي محمد حلیم فدایي، او د بیات قوم مشر ښاغلــي قسیم یار دغې غونډې ته وېناوې وکړې.

ګډونوالو څرګنده کړه چې تر کانفرانس وړاندې یې د مدني ټولنې په اړه ډېر کم معلومات درلودل چې څرنګه یې په پرمختګ کې مرسته وکړي. خو د کانفرانس تر پای ته رسېدو وروسته دوی په ډاګه کړه چې دوی د مدني ټولنې او دا چې څه ډول به یې پرمختګ ته متې را بډې وهي په اړه بنسټیز لومړني معلومات لــري. تقریباً د ټولو ۲۰۰ ګډونوالو له خوا سپارښتنې هم وشوې.

له سپارښتنو څخه یوه دا وړاندیزوي چې د جرګو مرکو غړي او کوچیان باید د ښځو پر خلاف د تاوتریخــوالي په را کمولو کې عملي ګامــونه پورته کــړي،



*د مدني ټولنې په پرمختګ کې د کوچیانو او جرګې د غړو د نقش په اړه د افغان مدني ټولنې ملي کانفرانس– کابل*

او دوی باید دغه کار د دریو لارو له مخې ترسره کړي:

الف) د جرګو د غړو له خوا په ټولنه کې ژمنې ترسره کول او عملي ګام پورتــه کول. د جرګو غړي باید په ټولنو کې د څارونکو یا ساتونکو دنده ولري، او باید په جدي توګه په خپلو کلیو بانډو کې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی یا خشونت وڅاري؛

ب) علما باید د هغو دودونو د له منځه وړلو په اړه چې د ښځو حقونه په کــې پایمالیږي یوه فتوا صادره کړي؛ او

ج) د قانون د پلي کولو له لارې، دولت باید هر هغه دود بند کړي چې په ټولنــه کې د ښځو د پرمختګ خنډ ګرځي. *(پاتې په دویم مخ کې)*

## کاونټرپارټ د آیپکس شریکباڼو ټولنو ته د اډویکسی د پیژندګلوی ټرېننګونه وړاندې کوي

د سولې او پیوستون له پاره د همکارۍ ټولنه (CPAU) د کاونټرپارټ کارمندانو او د آیپکس د دریو شریکباڼو ټولنو(د افغان مدني ټولنې مجمتع، د افغان ښځو له پاره تعلیمي مرکز، او د قومونو د اړیکو دفتر چې د دویم ځلي بلاعوضه مرستــو د اډویکسۍ په پروګرام کې برخه اخلي) کارمندانو ته د اډویکسۍ د پیژندګــلــوی څلور ورځنی ټرېننګ وړاندې کړ. ددغه ټرېننګ په بهیر کې ګــډونــوالــو د اډویکسۍ د مفهوم، د اډویکسۍ د کولو له پاره دلیلونه او د اډویکسۍ د دوران یا سایکل د طبیعت په اړه زده کړه وکړه.

پر دې سربېره د سولې او پیوستون له پاره د همکارۍ ټولنې درې نور دوه ورځنې ټرېننګونه د اډویکسۍ د اساساتو په اړه د د افغان مدني ټولنې مجتمــع(ACSF ) د افغان ښځو تعلیمي مرکز(AWEC ) او د قومونو د اړیکو دفتر (TLO ) مؤسسو له خوا د مدني ټولنې د نښه شوو مؤسسو له پاره – چې هغوی هم د دویم ځــلــي بلاعوضه مرستو په پروګرام کې برخه اخلي– دایر کړل.

په نورو ټرېننګونو کې د آیپکس د مدني ټولنې د ملاتړ د مرکزونو د کارمندانو له پاره د اډویکسۍ د اساساتو په اړه یو پنځه ورځنی او یو ۱ ورځنی د ټرینر له پاره ټرېننګ(ToT) په کې شامل دي. د اډویکسۍ د اساساتو په اړه دغه پنځه ورځني ټرېننګ برخه اخیستونکي دې ته چمتو کوي چې د اډویکسۍ په یو ورځني(ToT) ټرېننګ کې برخه واخلي.

د ټرینر له پاره د ټرېننګ تر ترلاسه کولو وروسته، نووو روزل شوو ټرینرانو د اډویکسۍ په اړه یو ورځنی ټرېننګ د مدني ټولنې د نښه شوو مؤسسو تقریبــاً ۳۲۰ تنو کارمندانو ته ورکړ. *(پاتې په ۴ مخ کې)*

## د افغانستان له پاره د ټريننګ او پرمختيا مرکز په کندهار کې د مدني ټولنې د ملاتړ د نوي مرکز په توګه وټاکل شو

د ټاکنو تر بشپړ او ړنه بهير وروسته، د افغانستان له پاره د ټريننګ او پرمختيا مرکز(ACTD) چې يوه غير دولتي راجستر شوې مؤسسه ده، او په افغانستان کې د مدني ټولنې د پرمختيا او بدلون په برخه کې کار کوي، د مدني ټولنې د ملاتړ د مرکز (CSSC)په توګه په کندهار کې وټاکل شوه.

د افغانستان له پاره د ټريننګ او پرمختيا مرکز(ACTD) د ۲۰۰۶م په جون کې د افغان کارپوهانو د يوې ډلې له خوا تأسيس شو، چې په دې توګه د ښـېـړنـو، ټريننګونو او سلاکارۍ خدمتونه وړاندې کړي او له مخې يې د اړتيا وړ پوهې ته وده ورکړي. د افغانستان له پاره د ټريننګ او پرمختيا مرکز په څلورو ولايتونو – هرات، کندهار، ننګرهار او بلخ کې فعال حضور لري او د مدني ټولنې د ملاتړ د مرکز په توګه به د آيکس له خوا د مدني ټولنې له هدف شوو مؤسسو سره په کندهار، هلمند، ارزګان او زابل ولايتونو کې کار کوي.

د افغانستان له پاره د ټريننګ او پرمختيا مرکز به د ظرفيتونو د لـوړولـو، د خدمتونو د وړاندې کولو او د څېړنو له لارې د افغان مدني ټولنې د پرمختيا له پاره د هغو خلکو، مؤسسو او نهادونو سره يو ځايي کار او پر ځای او اړوندې مرستې کوي چې د مدني ټولنې د پرمختګ له پاره کار کوي. د افغانستان لـه پاره د ټريننګ او پرمختيا مرکز ژمن دی چې د رڼو، معتدلو، مسلکي، اخلاقي او د جنډر له اړخه د مسؤولو خدمتونو او انساني کرامت ته د درناوي له مخـې خپل مؤسساتي ماموريت ترسره کړي.

**کاونټرپارټ د افغان مدني ټولنې په اړه....** نړيوالو او سيمه ييزو رسنيو دغه کانفرانس ته بې مثاله انعکاس ورکړ، چې په دې رسنيو کې آشنا راډيو، واشنګټن ډي سي، آزادي راډيو، امريکا غږ راډيو، بي بي سي، د افغانستان راډيو ټلويزيون، پژواک خبري آژانس، آريانا ټلويزيون، باختر خبري آژانس، شـمـشـاد ټلويزيون، تمدن ټلويزيون او نور شامل وو.

## ولې به نه حيرانيږو؟

### د ګوهر علي ليکنه

د لته بند له غرنۍ او د دوړو او ګردونو د لارې سخت سفر باندې روان وم. د کابل د سروبي ولسوالۍ څخه بيا د طالبانو د مشر په نامه د نومول شوې سيمې ملاعمر درې پورې سفر درې ساعتونه و. موږ تر ډېر ستړي کوونکي سـفـر وروسته د ستړيا رفع کولو او آرامۍ له پاره دمه شوو. له دې سيمې څخه د هبواد مرکز کابل ښاره پورې د يوه ساعت لاره ده.

ملا عمر درې ته په رسېدو مې خپل مخ پر اوبو ومينځه او د آرامۍ احساس مـې وکړ. د ښځو او ماشومانو په شمل يو زيات شمېر خلک دلته وو، چې د بسونو او وړو موټرو په وسيله دې ځای ته را رسېدلي وو او زموږ په شان د اوبو څښلو او دمې کولو له پاره يې ځو شيبې دغه ځای غوره کړی و.

هغه مهال چې د موټروان له پاره مې انتظار کاوه، يو سړی مې وليده چې تقريباً د ۵۵ کلونو په عمر به وو او د يوې معلولې نجلۍ چې د ۱۶ کلونو به وه لاس يې نيولی وو او داسې ښکارېدله چې لور به يې وي. نجلۍ په سړي پسې شاته روانـه وه او هڅه يې کوله چې ځان ورپسې ورسوي، خو دا توان يې نه و چې له سـړي سره په عين سرعت لاړه شي، ځکه د نجلۍ غاړه، لاسونه او پښې کاږه او معلول وو.

د موسم له مخې، په ځمکه د روانو اوبو پريماني وه. نجلۍ نه غوښتل چې د اوبو له لارې لاړه شي، خو دغه سړي هغه نجلۍ په ځان پسې را ښکله او په زور يـې دې ته مجبوروله چې په ده پسې راشي. زه هغه سړي ته ورغلم او هيله مې تـرې وکړه چې کومه بله بديله لاره وګوري چې د نجلۍ له پاره تګ ورباندې آسـان وي. په دې مهال مې درک کړه چې دا سړی خپلې لور ته په قهر او قضب دی.

کله چې دوی له اوبو تېر شول، نو دغه سړي نجلۍ بيا ډېره په زور په ځان پسـې را کاږله چې له دې امله نجلۍ ولوېده او سړي په ځان پسې را کاږله او دا پـه خاپوړو خاپوړو ببرته را ولاړه شوه. نجلۍ ډېره وېرې ترهې اخيستې او خواشينـې ښکارېدله. زه هک حيران شوم، چې يو سړی له بل انسان سره داسې سـلـوک کوي لکه له ځناور سره يې چې ځوک کوي، او تر دې هم زيات ځکه دا خو له يوې خوا نجلۍ وه او بل په فزيکي توګه معيوبه هم وه.

ما دوی ته کتل، سړي نجلۍ کشوله او نجلۍ هڅه کوله چې ور پسې وي. دوی يوه ټاکلي ځای ته ورسېدل، ما ته څرګنده شوه چې دې نجلۍ د قضا حاجت لـه پاره اړتيا لرله. ددې له اشارو څخه، ماته پته ولګېده چې دغه سړي نجلۍ ته ويل چې په همدې ډاګ باندې خپل قضا حاجت ترسره کړي، خو دې نجلۍ نه غوښتل چې په تش ميدان چې هلته ډېر خلک وو او ځينو د لمانځه لپاره اودسونه کـول ددې ټولو په مخ کې په سپين ميدان قضا حاجت وکړي. ددې له انکار څـخـه وروسته، سړي نجلۍ ته پر مخ باندې سخته څاپېړه ورکړه او دا يې مجبوره کـړه چې په همدې ځای کښېني. زموږ موټروان هم دې پېښې ته کتل، نوموړی له واکه ووت پرېکړه يې وکړه چې دغه سړي ته د خپلو بدو سزا ورکړي، خو دغه سړی د خلکو په ګڼه ګوڼه کې ورک شو. موږ دواړه خپه شوو چې ولې مو د يـوې معلولې نجلۍ مرسته ونه شواى کړای. د لته بند د غرنۍ لارې تر درې ساعتـه ستړي کوونکي سفر وروسته دې اړتيا پيښېږي چې آرام وکړي، په ځانګړې توګه هغه ښځې او ماشومان چې په بسونو کې سفر کوي دمې ته زياته اړتيـا لـري.

وروسته مې وليدل چې هغه سړی په لمانځه ولاړ دی او نجلۍ ورته انتظـار وه. نجلۍ د خپلې ناروغۍ، معيوبيت او وېرې ترهې له امله ربړېدله.

ما به تل د ښځو د حقونو او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي او خشونت په اړه د فعالانو نارې سورې اورېدلې، خو په رښتيني توګه دغو نارو سورو پر ما اثر نـه کاوه، خو دغې ترخې تجربې او زړه بوږنوونکي حالت د ښځو او نجونو پرخلاف د خشونت او تاوتريخوالي په اړه زما ذهنيت بدل کړ. ما درک کړه چې ځينـې وختونه د نارينه ګان د ښځو پر وړاندې ډېر بې رحمه او سخت زړي وي، او هغوی تر سخت فشار او ځور لاندې راولي. عجيبه خبره داده چې دا نه يـوازې چې نجلۍ وه بلکې دا يوه معيوبه نجلۍ وه. دې؛ د هغو په پرتله چې فـزيـکـي معيوبيتونه نه لري زياتې پاملرنې ته اړتيا لرله.

دا يوه وړه کيسه ده، خو دغه ډول پيښې چې ښځې او نجونې د نارينه ګانو لـه خوا ځورېږي يوه عامه خبره او عمل دی. که څه هم ما هڅه وکړه چې هغه سړی دې ته وهڅوم چې نجلۍ ته ډېر پام وکړي، فکر کوم چې په هغه مهال کې مې له نجلۍ نوره مرسته هم کولی شواى. ځکه خو مې وپتېيله چې دغه کيسه وليکم او خلکو ته يې ورسوم په دې هيله چې دغه کيسه به تر يوه حده پورې په نورو خلکو اغېز وکړي چې په ښځو خشونت او تاوتريخوالي ته دوام ورنه کړي، ځکه چـې دوی هم انسانان دي او ددې حق لري چې خپل ژوند په عزت او وقار کې تېـر کړي.

## کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د جندر له پاره د بودجې اختصاصولو په خاطر د دولت له وزیرانو او د ولسي جرګې له غړو سره د بحث یوه ورځنۍ غونډه جوړه کړه




کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د جندر له پاره د بودجې اختصاصولو په خاطر د دولت له وزیرانو او د ولسي جرګې له غړو سره د بحث یوه ورځنۍ غونډه جوړه کړه

د روان ۲۰۰۸م کال د آګسټ په ۱۷مه نېټه کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د جندر له پاره د بودجې اختصاصولو په خاطر د افغانستان له وزیرانو او د ولسي جرګې له غړو سره د کابل په سرینا هوټل کې د بحث یوه ورځنۍ غونډه جوړه کړه.

ددغې غونډې هدف دا و چې د جندر مسایلو ته د ځواب ویونکې بودجې او ورپورې اړوندو مسایلو په اړه د مدني ټولنې د پوهاوي کچه لوړه کړي، او د جندر مسایلو او په ملي بودجه کې د د جندر بودجې په اړه د دولت ژمنې واخلي. دغې غونډې دغه راز د مدني ټولنې د مؤسسو له پاره داسې د بحث یو مجلس را منځته کړچې په وسیله به یې داسې یو مېکانېزم جوړوي چې د دولت ژمنې پرې وڅاري.

د دغې غونډې پر مهال د کاونټرپارټ مؤسسې مشرې آغلې ټیلی ریډ ګډونوالو ته ښه راغلاست ووایه، او د دغې غونډې او بحث د هدف په اړه یې توضیحات ورکړل. چې وروسته بیا یو لړ پریزنټېشنونه وړاندې کړل شول: د ښځو د چارو وزارت مرستیالې وزیرې سیده مژګان مصطفوي د افغانستان د ښځو له پاره د عملي ملي پلان په اړه پرېزینټېشن وړاندې کړ. د ولسي جرګې غړې شینکۍ کروخېل چې په ولسي جرګه کې د مالي چارو د کمیسون غړې ده، د جندر له پاره د بودجې اختصاصولو او د افغانستان د ښځو له پاره یې د اهمیت په اړه توضیحات ورکړل؛ د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ د ټولنیز ملاتړ د سکتور منتظم ښاغلي زلمي علاوالدین د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ په اړه توضیحات ورکړل او د ښځو له پاره یې د ستراتیژۍ اړوند مفاهیم توضیح کړل؛ د افغان مدني ټولنې مجتمع رئیس ښاغلی عزیز رفیعي د زریزې د دریم هدف په اړه وینا وکړه، چې دغه هدف د جندر تعادل او د ښځو د ځواکمنۍ ته وده ورکوي، همدا راز ښاغلي رفیعي د ملي بودجې په رامنځته کېدلو کې د مدني ټولنې په ونډه او نقش هم خبرې وکړې.

له غرمنۍ وروسته د ولسي جرګې رئیس ښاغلي محمد یونس قانوني په افغانستان کې د جندر مسایلو د اهمیت او د ولسي جرګې او د دولت د وزیرانو د مسؤولیتونو په هکله چې په خپلو فعالیتونو کې د جندر مسایلو ته پام وکړي — موضوعاتو په اړه غونډې ته وینا وکړه. دغه راز د له غرمې وروسته مهال کې د مالیې وزیر، د پوهنې وزیر، او د لوړو زده کړو وزیر او د عامې روغتیا، د کلیو د بیا رغونې او پراختیا، د کار او ټولنیزو چارو وزارتونو مرستیال وزیرانو او د ښځو د چارو د وزارت او د مدني ټولنې او بشري حقونو د کمیسون سرپرست دغې غونډې ته په ملي بودجه کې د جندر مسایلو په نظر نیولو په هکله د خپلو پلانونو په اړه ویناوې وکړې. د مرستندویو ټولنو د جندر د همغږې د ګروپ استازي هم وینا وکړه، ددغه ډول فعالیتونو په اړه یې د مرستندویو ټولنو د ملاتړ ژمنه وکړه. ۱۲ تنو نورو وزیرانو او د ولسي جرګې غړو او څه د پاسه د ۱۴۰ مدني مؤسسو استازو په غونډه کې ګډون وکړ. د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پرمختیا اداره (یو ایس آی ډي) د ملګرو ملتونو پرمختیایي پروګرام او د آلمان د تخنیکي مرستو مؤسسې (جي ټي زیډ) د د جندر له پاره د بودجې اختصاصولو په خاطر د افغانستان له وزیرانو او د ولسي جرګې له غړو سره د دغې غونډې د دایرولو لګښتونه په غاړه اخیستي وو.

## د کاونټرپارټ د آیپکس کارمندانو په هند کې په مؤسساتي پرمختیا کې د آسانتیاوو برابرولو د مهارتونو ترلاسه کولو ټرېننګ کې ګډون وکړ

د کاونټرپارټ د مؤسساتي پرمختیا افسر او د آیپکس د شریکبانو ( د افغان ښځو تعلیمي مرکز AWEC او د افغان مدني ټولنې مجتمع (ACSF) مؤسسو څخه د آیپکس مدیرانو د روان ۲۰۰۸م کال په جون کې په هند کې په مؤسساتي پرمختیا کې د آسانتیاوو برابرولو د مهارتونو د ترلاسه کولو په ټرېننګ کې ګډون وکړ، چې دغه ټرېننګ د اداري ټکنالوژۍ د بشپړ پرمختګ او خدمتونو(IDMTS) د ادارې له خوا وړاندې شو.

دغه ټرېننګ د کاونټرپارټ او د شریکبانو مؤسسو د کارمندانو د ظرفیتونو د لوړولو له پاره ډېر ګټور، ځکه چې دوی به وتوانېږي چې شریکبانو مؤسسو ته د لا زیاتو اغېزمنو مرستو په وړاندې کولو کې به له دغو مهارتونو او پوهې څخه کار واخلي. په دغه ټرېننګ کې د سریلانکا، بنګله دېش، هندوستان او افغانستان هېوادونو څخه تر ۲۰ تنو زیاتو ګډونوالو برخه اخیستي وه.



"لومړی کمونیزم و، بیا طالبانیزم و او اوس انجوایزم دی." چې دغه ډول خبر به د طالبانو له پرزېدو وروسته په کال ۲۰۰۱/ ۲۰۰۲ کې تکرارېدلې. دا که د ټوکې یا جدي خبرې په توګه کېدله، خو دې خبرو په افغانستان کې د غیر دولتي مؤسسو (انجوګانو) په اړه د خلکو بې باوري او بدګماني زیاته کړه. د افغانستان په دولت کې ډېری چارواکو په نادولتي مؤسسو تور ولګاوه چې دغه مؤسسې په عایداتي فعالیتونو کې دخیلې دي، او له افغانانو څخه بهرنۍ مرستې په خپلو شخصي ګټو لګوي. نړیوال انجوګانو د دغو ناسمو انګېرنو او بې باوریو له امله زیاته صدمه ولیده، ځکه خو د یوه واحد او نه جلا کېدونکي مرکز په توګه یې نړیواله ټولنه را غونډه کړه چې د هغو سیاستمدارانو له خوا چې د خلکو پر نیتونو سیاست کوي له پاره یو آسانه هدف وګرځېدله.

پوښتنه دلته وه چې څه ډول به عامو وګړو ته رسېږو او مفاهمه به ورسره کوو چې د مدني ټولنې مؤسسې د افغانستان په پرمختیا کې مهم نقش لوبوي. ددغې پوښتنې ځواب دا و چې د رسنیو هغه فورم چې کېدلی شي په افغانستان کې تر ټولو مشهور او ښه وي باید استفاده ورڅخه وشي: چې هغه ډراماتیک فلم و. د مدني ټولنې، قانون او جندر موضوعات په کیسه ییزه توګه په یوه ډراماتیک، او په حقیقت کې د یوه کومیډي فلم په وسیله وړاندې کول، او بیا دغه موضوعات د مشهورو افغان هنري لوبغاړو په وسیله فلم بندي کول به یقیناً د عامو وګړو پام ځانته راواړوي. په افغانستان کې د ډېر شمېر فلم تولیدوونکو (پروډکشن) کمپنیو کې، د جوان شېر حیدري کمپنۍ چې د " بلبل او ملګري یې" سلسله وار فلمونه یې مشهور دي، د په ګټو نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز (ICNL) له خوا ورسره تړون لاسلیک شو، چې د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالي پرمختیایي اداري( USAID) په مالي ملاتړ د کاونټرپارټ نړیوالي مؤسسي د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت (آیپکس) پروژې په تطبیقولو کې د (ICNL) نړیواله مؤسسه مشارکت لري. بلبل بې له ځنډه افغانانو ته یوه پېژندل شوې څېره ده.

د بلبل او مدني ټولنې کیسه د څېړنې او کشف ده. د فلم په پیل کې بلبل او ملګري یې د لمانځنې په مراسمو کې وي، خو ډېر ژر پته ورته لګېږي چې ددوی یو تر ټولو نېږدې ملګری یې په منځ کې نشته. دوی غواړي چې په ښوونځي کې چې هلته درس ورکوي پیدا یې کړي. له کړکۍ بهر دوی هغه ته غوږ نیسي، چې هغه له ماشومانو سره د مدني ټولنې په معنی بحث کوي. چې له دې څخه دوی د مدني ټولنې ، د هغه قانون په هکله چې ددغې ټولنې ملاتړ کوي او د جندر موضوعاتو په کشف پسې خپل سفر پیلوي. دغه سفر په کلي کې د بلبل او د هغه د ملګرو او د یوه بل مخالف ټیم تر منځ د مدني ټولنې په اړه په ذهني سیالۍ سره خپل اوج ته رسېږي.

د ۲۰۰۸م د جون په ۹مه نېټه د بلبل او مدني ټولنه ۵۵ دقیقه ییز فلم د افغانستان د راډیو ټلویزیون له خوا خپور شو. د نبي تنها او د بلبل د فلمونو د لړۍ د زیات شهرت له مخې دغه فلم د افغانستان زیات شمېر خلکو وکوت. د افغانستان ملي ټلویزیونه تقریباً په هېواد کې د ننه ٦ میلیونه لیدونکي لري، چې له هېواد څخه بهر هم د لیدونکو له پاره خپروني لري. د بلخ ولایت د اقتصاد وزارت ولایتي رئیس ښاغلی عبدالرحمان دغه فلم ستایي او په دې اړه وایي: "فلم واقعاً ښه و. حیران شوم چې د هنري لوبغاړو د غیر دولتي مؤسسو د ثبت بهیر توضیح کاوه، باید ووایم چې دغه فلم واقعاً ډېر ښه و".

د افغانستان له ملي ټلویزیون څخه د دغه فلم له خپرېدو وروسته، د فلم ډي وي ډي کاپي ګانې په ویډیو دوکانونو او پرچون خرڅلاو بازار ته را ووتې. د نبی تنها (بلبل) په وینا د فلم په اخیستلو بیرو بار جوړ و؛ د ویډیوګانو یوه دوکان په کمو ورځو کې د فلم ۲۰۰ ډي وي ډي کاپي ګانې خرڅې کړې دي.

لکه څرنګه چې بلبل او د هغه ملګرو ته د جندر له اړخه د یوې متعادلې مدني ټولنې اهمیت څرګند شو، دغه ډول دا فلم د مدني ټولنې په اړه د افغانانو د پوهاوي کچه لوړوي او د مدني ټولنې پر وړاندې د دوی کړو وړو ته بدلون ورکوي.

## د بریاوو کیسه

**د نبی تنها (بلبل) په وینا د فلم په اخیستلو بیرو بار جوړ و؛ د ویډیوګانو یوه دوکان په کمو ورځو کې د فلم ۲۰۰ ډي وي ډي کاپي ګانې خرڅې کړې دي.**




*د بلبل او مدني ټولنې فلم*

***لکه څرنګه چې بلبل او د هغه ملګرو ته په افغانستان کې د جندر له اړخه د یوې متعادلې مدني ټولنې اهمیت څرګند شو، دغه ډول دا فلم د مدني ټولنې په اړه د افغانانو د پوهاوي کچه لوړوي او د مدني ټولنې پر وړاندې د دوی کړو وړو ته بدلون ورکوي.***

**کاونټرپارټ د آیپکس شریکانو ته د اوویکسی ټریننګ ....** د ټریننګونو تر وړاندې کولو وروسته د کاونټرپارټ د څارنې او ارزونې د څانګې له خوا د را ټولو شوو ارقامو او معلوماتو له مخې د دغو ټریننګونو پایلې ډېرې هڅوونکې او مثبتې وې. د مدني ټولنې ښه شوو مؤسسو د وړاندې شوو موضوعاتو په اړه ښه پوهه ترلاسه کړه او د خپلو مهارتونو او پوهې د لا ښه کولو په خاطر یې د نورو ټریننګونو د دایرولو غوښتنې او هیلې کړې دي .